2015-11-01

Teknikprogrammet



# د تخنیک پروګرام

PASHTO

Skolverket

Utbildningsinfo

**د تخنیک پروګرام لوړو زده کړو ته د چمتووالي پروګرامونو د جملې څخه دی چې لوړو زده کړو ته د چمتووالي بری لیک ترلاسه کولو ته زمینه برابروي.**

دا پروګرام د هغو خلکو لپاره ترتیب شوی ځوک چې د تخنیک او د تخنیکي پروسو په برخه کې کار کولو سره لیوالتیا لري. دا دوره په پوهنتون کې د تخنیک او طبیعي علومو په ډګر کې لوړو زده کړو لپاره بنسټ جوړوي. تاسو به په دې پروګرام کې د زده کړې له لارې نورو رشتو ته د ورتیا شرایط هم پوره کړئ.

## پنځه بېلابېلې څانګې

### ډیزاین او د تولیداتو وده

- تاسو به د کمپیوټري ډیزاین او جوړښت باندې تمرکز لاندې د ډیزاین او د تولیداتو ودې په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

### د اطلاعاتو او د رسنیو تخنیک

- تاسو به د اطلاعاتو، اړیکو او د بېلابېلو ډولونو رسنیو د مثال په توګه کمپیوټري اړیکو، د کمپیوټر پروګرام لیکنې، بریښنایي رسنۍ او د ویبپاڼو پنځونې په لړ کې استعمالیدونکي تخنیک په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

### تولیدي تخنیک

- تاسو به د میخانیکي تولید او د تولیدي مراحلو سمبالښت په څېر د تولید او د شرکت چارې پر مخ بیولو په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

### د ټولنې آبادول او چاپېریال

- تاسو به د ټولنې آبادولو، چاپېریال او ودانۍ په اړه پوهه ترلاسه کړئ چېرې چې تخنیک د چاپیریال پوهنې، شکلا او اقتصاد هومره اهمیت لري.

### تخنیکي علوم

- تاسو به د ریاضي مودلونو جوړولو، په غیر واقعي توګه ښوولو، لارښوونې او تنظیم لپاره د تخنیکي علومو میتودونو او مناسبو وسایلو په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

### تاسو په دې پروګرام کې لاندې مهارتونه ترلاسه کولی شئ

تاسو به د تخنیکي پروسو باندې تمرکز سره د تخنیک، فزیک، کیمیا او ریاضي په اړه خپله پوهه کې پراختیا راولئ. تاسو به د تخنیک پرمختګ په وخت د بېلابېلو برخو ترمنځ تړاو په ګوته کول زده کړئ او په ټولنه کې د تخنیک پرمختګ په اړه به پوهه ترلاسه کړئ. تاسو به دواړه شته تخنیک او د نوي تخنیک پرمختګ مطالعه کړئ.

### نوموړی پروګرام په لاندې ډول ترتیب شوی دی

د تخنیک پروګرام کې د ثانوي دورې دا عمومي مضمونونه شامل دي: انګلیسي، تاریخ، بدني

روزنه او روغتیا، ریاضي، دیني علوم، ټولنیز علوم، او سوېډني ژبه یا سوېډني د باندنۍ ژبې په حیث. لوړو زده کړو ته د چمتووالي پروګرامونه د حرفوي پروګرامونو په نسبت زیاتره د نظري کورسونو څخه تشکیل شوي وي.

د پروګرام ځانګړي مضمونونه په دا ډول دي: فزیک، کیمیا او تخنیک.

تاسو به فرصت ولرئ چې د خپلې خوښې پروګرام کې تخصص او ژوره پوهه ترلاسه کړئ. دا پړاو د پروګرام اختصاصي مضمونونو په نوم یادېږي. دا مضمونونه د بېلګې په توګه په دا ډول دي: ساختمان، برېښنا پوهنه، د ننداړو سمبالولو تخنیک، فلسفه، جغرافیه، تاریخ، پایداره ټولنه، طبي تخنیک، د انټرنیټي شبکې تخنیک، ښوونه او روزنه، د کمپیوټر پروګرام لیکنه، اروا پوهنه، سوېډني ژبه او د ویبپاڼو تخنیک. د مربوطه ښوونځي سره اړیکه ونیسئ چې د اختصاصي مضمونونو لپاره کوم مضمونونه وړاندې کوي.

تاسو اختیاري مضمونونه هم لرئ چې له دې لارې د خپلې خوښې مضمون لوستلی شئ. د ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ چې کوم کورسونه لري.

## عملي کړنلارې

تاسو به د دې پروګرام په لړ کې سرچینو ته د تنقیدي نظر له پلوه د مالوماتو لټول او په کار اچول ترسره کوئ. ستاسو د زده کړې په مرحله کې به بېلابېلې دندې شاملې وي چې تاسو به یې په مستقل ډول او یا د نورو محصلینو سره په ګډه د پروژو په شکل کې ترسره کوئ. تاسو به خپل د نوي او ابتکاري د حل لارې راویستلو ظرفیت لاپسې پیاوړی کړئ او د یو شرکت چارې پرانیستلو امکاناتو په اړه به لازیاته پوهه ترلاسه کړئ.

تاسو به په تخنیکي سیستمونو باندې بهتره پوهېدلو په موخه په شننه، مودل جوړونې، ښوونې، ظاهري معقولیت سنجونې، وده ورکونې، ارتباط په ګوته کولو، نتیجه اخیستلو او استدلال کولو کې تمرین ترلاسه کړئ.

## د ثانوي دورې پایلیک

تاسو به د تخنیک پروګرام په پای کې د ثانوي دورې یو بری لیک لیکئ. د پایلیک لیکلو په لړ کې به د پروګرام علمي موضوعګانو د شمېر څخه یوه پراخه موضوع خوښه کړئ او د هغې څخه به یوه پوښتنه راپورته کړئ، طرحه به یې جوړه کړئ، تطبیق به یې کړئ او بیا به یې په هکله یوه څېړنه ترسره کړئ.

## د پام وړ

که چیرې تاسو د لوړو زده کړو لپاره ځانګړي شرایط پوره کول غواړئ نو اړینه ده چې مخکې له مخکې د خپلو زده کړو لپاره یو پلان جوړ کړئ. که چیرې تاسو وړاندې په پوهنتون کې د لوړو زده کړو هوډ لرئ نو د لارښوونې لپاره د زده کړې او مسلک لارښود سره اړیکه ونیسئ.

تاسو تل حق لرئ چې د بدني روزنې او روغتیا او د هنري کورسونو د جملې څخه یو کورس د اختیاري مضمون په توګه هم خوښ کړئ.